نبیل خان ملاکنډ خارکې

# جګه شمله او مارکسی فلسفه

**يو ځل به وی چې به راسپړمه خله**
**زياره تر څو پورې به غلې يمه**




ډاکټر خالق زيار د بلغاريه اکېډمی آف سوشل سائنسز نه په ستمبر 1983 کښې مارکسی فلسفه وئيلې وه .او د ډاکټر صېب په ټول ژوند او فکر کښې دا فلسفه په نظر راځی .د ډاکټر صېب په شاعرئ کښې د فلسفيانه فکر په اړه د څېړنې نه وړاندې د فلسفې په تاريخ لږه رڼا اچول ضروری ګڼم.

لفظ فلسفه بنيادی طور د دوه لفظونو' فېلو 'او' سوفيا 'نه جوړ شوې دې يعنی د علم سره مينه کول او دا ترکيب فيثاغورث وضع کړې وو.نو ظاهره خبره ده چې کوم قام د علم سره مينه کوی هغوی به مخ په وړاندې ځی نو اوس مونږ له هم په خپل ګريوان کښې لږ کتل پکار دی چې مونږه د علم سره څومره

مینه کړې ده ؟او د سائنسی انقلاب نه وروسته مونږه څومره پرمختګ کړے دے ؟او که پرمختګ مو نه دے کړے نو ولې مو نه دے کړے ؟ډاکټر صیب د دې نه پرده پورته کوی او په یوه قطعه کښې وایی چې پښتانه

سر کۀ په هر جنج کښې په ګډا نه وې
داسې به د خلکو د خندا نه وې

نن به پښتانه داسې په ځان نه وې
زیاره غولولې کۀ ملا نه وې

د انسان نه چاپېره لامحدود کائنات دی ددې لامحدود کائنات د حقیقت پېژندلو دپاره د تمام موجوداتو د علت و معلول علم حاصلول او په هغې د شک کولو د کوښښ نوم فلسفه ده .ځکه خو افلاطون وائي چې " د فلسفې ابتداء د حرکت نه کېږی "او اختتام ئې په شک سره کېږی .هم دا وجه ده چې دنیا مسلسل پرمختګ کوی او د ښو نه د ښو په تلاش کښې ده لکه ډاکټر صیب هم وائي

نه اودرېږم دا دې انسانی فطرت
لتیه کړم د ښو نه لا په ښو پسې

زمونږ نه چاپېره چې کوم شیان او مظاهر واقع کېږی دا یا خو مادی دی او یا خیالی دی .کوم شیان چې د انسانی ذهن نه جدا آزاد وجود لری مادی شیان دی او په کائنات کښې معروضی طور موجود وی خو کوم شیان چې زمونږ د محسوساتو او جذباتو په دائره کښې راځی او د ذهن محتاج وی نو دا خیالی دی او دوی موضوعی طور موجود وی.
د فلسفې بنیادی پوښتنه ددې مادیت او
تصوریت په مېنځ کښې جنګ دے. دا دواړه جدا رویې دی او په دې سره مونږه کائنات ګورو ,ژوند پېژنو ,د خپلو ستونزو تجزیه کوؤ او راښکاره کېدونکی واقعات پرې پېژنو لهذا دا کائنات ,معاشرتی قوانین ,فطری مظهرونه او فکری نظام په مادی قوانینو سره پېژندل مادیت دې خو کۀ دا څوک په یو بهرنی عامل او آسمانی مداخلت سره د پېژندو کوښښ کوی نو دا بیا تصوریت دې مثلاً باران څنګه کېږی ؟مادیت پسند وائي چې د سمندر او دریابونو نه بخارات بره لاړ شی چې وریځې ترې جوړې شی او کله چې ددې حرارت کم شی نو باران ترې اوشی خو څه خلک فکر کوی چې د هاړ سخته روژه ده او خدائې د مسلمانانو زارې

واورېدي نو باران اوشو نو دا ددې مظهر خيالي تجزيه وه چې ورته تصوريت وئيلې شي.ډاکټر صېب هم په مادي دنيا کښې د سوال منت او زارو نه دې قائل لکه وائي چې

کۀ په ژړا کېدې نو شوې به وه
ډېر مې ژړلي د بادار په کور کې

دا رويه معاشرتي قوانينو ته هم لاګو کوې شو لکه زمونږ په وطن کښې د نيمې نه سوا خلک د غربت د کرښې نه هم خکته ژوند کوی نو اوس غربت ولې دے ؟د دې ډېر مادي وجوهات دي خو بنيادي وجه يې دا ده چې مونږه خپل هيواد ته ډېر شيان د بهر ملکونو نه راغواړو نو د دې قيمت مونږه په ډالرو کښې ادا کوؤ چې په نتيجه کښې ئې زمونږ سره خپله پېسه کمېږي .اوس د دې کمی د پوره کولو دپاره مونږه د بين الاقوامي بېنکونو نه قرضې اخلو او پدې قرضو سره مونږه ډېر دروند سود ورکوؤ چې په نتيجه کښې ئې زمونږه پېداواري طاقتونه کمزورې کېږي او غربت ورسره سوا کېږي .بل اړخ ته تصوريت والا وائي چې زمونږ وطن کښې غربت ځکه دے چې خلک نافرمانه شوي دي چې د شپې اوده کېږي نو قبلې ته پښې کوي وغېره وغېره ډاکټر صېب هم دا خبره په ډاګه کړې ده او د ماديت ملګرتيا کوي

په دعاګانو د چا پير فقير شته شوې نه يم
د جېټ په مياشت کښې مې په سرو غرمو لوونه کړي

ددې پورته مثالونو نه معلومېږي چې ماديت يو ترقي پسند سائنسي عالمي نقطه نظر دے د ماديت پسندو په خيال ماده حقيقي ده دا نه څوک پېدا کوې شي او نه ئې څوک ختموې شي او هر قسم شعور او تصور د مادې د تاريخي ودې پېداوار ګڼي ځکه شعور يو غېر معمولي پيچيده مادي شې دے څۀ ته چې د انساني مازغو خاصه وئيلې شي .ماديت پسند دنيا داسې وړاندې کوي لکه څنګه چې ده او په داسې دنيا کښې چرته چې د حرکت کوونکې مادې نه علاوه نور څه نه وي هلته د مافوق الفطرت شيانو هډو څه سوال نه پېدا کېږي.
ددې پر ضد تصوريت پسند شعور بنيادي او حقيقي ګڼړي .د دوی په خيال شعور د مادې نه وړاندې په وجود کښې راغلې او ماده د شعور پېداوار دے.د دوی هم بيا دوه قسمه دي يو موضوعي تصوريت دے چې ماده د انساني شعور پېداوار ګڼي او بل معروضي تصوريت دے چې ماده د دنيا نه بهر د يو بېروني عامل د شعور پېداوار ګڼي.تصوريت د سائنس پر خلاف د مذهب ملګرتيا کوي او د دنيا يو مسخ شوې صورت پېش کوي .لېنن وئيلې وو چې
" تصوريت د کليسائيت په اړخ د تلو لاره ده "هغه دې ته شائسته کليسائيت وئيلې وو.

www.sikaram.com

اوس کۀ مونږه اوګورو نو دا خبره یوازې اتفاق نه دے چې مذهبیانو همېشه مادیت او د دې ملګری د عقوبت نخښنه جوړ کړی لکه د ابن الرشد د قرطبه جماعت مخې ته تړل ,د الرازی په بګی. پسې تړل او په ښارونو کښې راښکل ,داسې په اټلی کښې د برونو اور ته اچول ,په ګلیلیو سرکاری پابندی لګول وغیره .ډاکټر صیب هم پدې تاثر کښې وایی چې

د منطق دلیل مېدان مې ترې ګټلې
دا ټوپک په لاس چې ما له راروان دی
د مسلک په نه خبره یو بل وژنی
څه په لوې عذاب اخته مسلمانان دی

بل ځائې هم وایی

دا زه چې ئې په سر سر ګوته بېرته یم ویشتلې
هر څوک چې وو خو ناست وو د جماعت په مناره کښې

لهذا مونږه په دې اورسېدو چې یو په فلسفیانه نظام یا د یو تن په فلسفه د پوهېدو دپاره دا ضروری ده چې هغه د فلسفې بنیادی پوښتنې ته کومه رویه اختیاروی او کۀ مونږه اوګورو نو د ډاکټر صیب رویه مادی ده لکه وایی چې

عادت شوې مې دې هڅې ورته ګورم
نور خبر یمه چې دغه بام خالی دے

د مارکسی فلسفې رویه هم مادی ده او دا یوه ګڼ اړخیزه فلسفه ده چې د ژوند د هر یو اړخ احاطه کوی او ډاکټر صیب ئې هم په ځګه شمله کښې ډېر اړخونه یاد کړی دی خو مونږ به خپله خبره رالنډه کړو او هغه اړخونه به ئې اوڅېړو د کومو چې زمونږ ټولنې او قام ته ضرورت دې.

## تاریخی مادیت:-

انسان د خپلې ټولنې سره په ډېرو رشتو کښې تړلے شوے دے او دې اکثر د خپلې ټولنې د آغاز ,پرمختګ او ددې پرمختګ د قابو کولو والا قوانینو په اړه فکر کوی چې دا قوانین اتفاقی دی کۀ نه موضوعی یا معروضی دی .د مارکسی فلسفې نه وړاندې په ټولن پوهنه باندې تصوریت غالب وو او د دې دومره جوت اثر وو چې د فرانس مادیت پسندو هم دا وئیل چې

www.sikaram.com

" خیالات په نړۍ حکمرانی کوی"
دغه شان هیګل اګرچه انسانی تاریخ له جدلیاتی رنګ ورکړو خو دې هم آخره کښې تېروتو او دا ئې ووئیل چې
"په نړۍ د آسمانی منشاء حکمرانی ده"
د دوی دا خبره چې خیالونه په نړۍ حکمرانی کوی د دوی خامی وه او دوی ددې خیالونو خالقان ممتاز خلک ,بادشاهان ,فوجی رهنماګان او مفکرین ګڼل او ددې وجې یې تاریخ د دې خلکو د کردار نه عبارت ګڼو خو دوی د تاریخ په پرمختګ کښې د عوامو فېصله کن کردار نه لیدو .کارل مارکس او اینګلز په وړومبی ځل د تاریخی مادیت نظریه وړاندې کړه .دا د ټولنې په اړه یوه سائنسی نظریه وه چې په تمامو ټولنیزو نظریو کښې ئې انقلاب راوستو .د دې نظریې ګڼ شمېر اړخونه دی خو مونږ به یې د ډاکټر صېب د شاعرۍ په رنړا کښې د خپلې ټولنې په مناسبت سره اوڅیړو.

## ټولنیز وجود او ټولنیز شعور:-

یوه زمانه وه چې دا دنیا مړه ماده وه د وخت تېرېدو سره پدې کښې ژوندۍ ماده پېدا شوه او د یو لوئې پرمختګ نه وروسته پدې کښې نباتات او حېوانات راپېدا شول او په یو دوران کښې پدې ماده کښې شعور هم پېدا شو .ددې مطلب دا شو چې ماده حقیقی ده او شعور د مادې نه پېدا شوے دے یا داسې به اووایو چې شعور د مادې محتاج دے.
مونږه اوپېژندل چې هر قسم تصورات نظریې او عقیدې زمونږ د شعور برخه ده او دا شعور د مازغو پېداوار دے .اوس کۀ د مازغو دا خاص جوړښت او ساخت تحلیل شی نو دا شعور به پخپله ختم شی نو لهذا دا مونږ چې بې ضائع خپل ځانونه په امتحان کښې اچولی او د حقیقی ژوند نه سترګې پټوؤ ددې وهم نه مونږ خلاصېدې شو پدې یوې خبرې سره چې مونږه د ډاکټر صېب خبره عام کړو، ډاکټر صېب وایی

تعویز لااوس هم ګرځوی په غاړه
ډېر کۀ مې پوه کړۀ چې پېریان نشته

مرګ دې د ژوند آخرنې امتحان
د دې نه اخوا امتحان نشته

www.sikaram.com

کارل مارکس هم دغه نظریه چې "شعور د مادي پېداوار دے "په انساني ټولنه لاګو کړه خو د مادي پر ځایې ئې ټولنیز وجود او معاشي حالات اولګول او د انفرادي شعور نه ئې ټولنیز شعور جوړ کړۀ او وې وئیل چې

"ټولنیز شعور د ټولنیز وجود او معاشي حالاتو پېداوار وی "

د مثال په طور کۀ اوس یو تن ښه یا بده رویه اختیاروی نو ددې رویې اختیارولو دپاره د هغه په ذهن کښې د مخکښې نه هیڅ بې هیڅه یو خواهش نه وی موجود بلکه تمام انساني خواهشات تصورات او خیالات د انسان د معاشي ژوند او ټولنیز وجود عکس وی په ذهن کښې هم هغه خیالونه پېدا کېږی کوم چې په ټولنیز وجود یا معاشي حالاتو کښې د مخکښې نه موجود وی.

اوس زمونږه خپل یو ځانګړې ټولنیز وجود او شعور دې .او پدې خپل ټولنیز شعور کښې مونږه د خپل ټولنیز وجود مطابق بدلون ته تیار یو خو کۀ اوس یو تن رالګی او د یو بل ټولنیز شعور اطلاق زمونږه په ټولنیز وجود کوی نو دا سراسر زیاتې دې او دا زمونږ د ټولنیز پرمختګ لاره نیسی مثلاً د عربو ګرمه او سره شګلنه زمکه ده نو د هغوی جنت یخ دې او دوزخ ئې ګرم دې خو د زرتشتو زمکه یخه وه او د واورو ,بارانونو او هواګانو نه تنګ وو نو د زرتشتو په جنت کښې اور بلېږی او ګرم دې خو دوزخ ئې یخ دې .اوس کۀ تۀ د یو عربی نه یو ښه کار اخلې او لالچ ورته دا ورکړې چې جنت ته به لاړ شې او جنت داسې ځائې دې چې ګرم دې نو هغه به دغې کار ته تن کېږدی ?نه .خو کۀ دا خبره د شمالي قطب یو کس ته اوکړې نو هغه به دا کار په خوشحالۍ سره اوکړی ځکه چې دا لالچ د هغه د ټولنیز وجود مطابق دې .ډاکټر صېب هم پدې مناسبت سره وایی چې

د ده خبرې هم زړې وی هم د بل وطن وی
ځکه په ما وی کۀ هر څوک خو ملا ښه نه لګی

## ب (تاریخي ضرورت-:

تاریخي مادیت وایی چې هر یو شې د یو تاریخي ضرورت تحت پېدا کېږی او دا ضرورت د ټولنیز مظهرونو د خپل مینځی ربط له وجې فطری طور راپېدا کېږی کۀ دا ضرورت مونږه اوپېژنو او ددې د پوره کېدو ذرائع پېدا کړو نو مونږه فطری قوانین هم قابو کولې شو.خو مذهب دا تاریخي ضرورت نۀ منی او وایی چې تمام تاریخي عمل د آسماني منشاء مطابق د مخکښې نه ترتیب شوی دی او انسان د قضا او قدر په لاسو کښې یو کهلونه ګڼی خو ډاکټر صېب ددې ډېر سخت تردید کوی او وایی

په تندی چا وې چې لیک بل څوک کوی
پدې پخپله څه تحریر به کوې

دلته تصوریت والاد موضوعیت تبلیغ کوی او په ټولنیز ژوند کښې د قوانینو د عمل نه انکار کوی .دوی دا ټینګار کوی چې د تاریخی عمل تعین نه څوک کولې شی او نه دا په څه شی انحصار کوی.دوی انسان یو بې بسه مخلوق ګڼی چې په تاریخی عمل کښې هیڅ فعالیت نه لری خو ډاکټر صېب دا بې بسی د سره نه منی او وایی

ټول عمر د بل په رضا ژوند کول
دا خو د هیڅ چا د لاسه نه کېږی

دلته به تصوریت والا وایی چې مارکسستې د ټولنیز قوانینو پر وړاندې بې بسه دی خو حقیقت دا دې چې انسان د ټولنیز پرمختګ قوانین نه پېدا کوې شی او نه ئې ختموې شی البته پېژندې ئې شی .عملی تجربې او جدید سائنس دا ثابته کړې ده چې د معروضی ضرورت پېژندو سره فطری قوانین انسان د خپلې مرضۍ تابع کړی دی او لګیا دې کائنات مسخر کوی .یو وخت وو چې انسان سپوږمۍ ته نه شو رسېدې ځکه چې نه خو انسان دې ته د رسېدو ضرورت محسوس کړې وو او نه ورسره سپوږمۍ ته د تلو کومه ذریعه وه .ډېرو قامونو د سپوږمۍ خدایان هم ځانله جوړ کړی وو لکه د عربو والالوئې خدائې د سپوږمۍ دیؤتا وۀ. خو یو وخت راغلو چې انسان دا ضرورت محسوس کړۀ نو ددې د تکمیل دپاره ئې ذریعې هم پېدا کړې او نیل آرمسټرانګ په سپوږمۍ وړومبې قدم کېښود او سپوږمۍ مسخر شوه لکه ډاکټر صېب هم وایی چې

دا سپوږی ته چې ځی هیڅ بې هیڅه نه ځی
ورسره څه عقل پوهه او هنر شته

اوس کۀ مونږه معروضی ضرورت او قوانین اوپېژنو او دا د انسانی مفادو دپاره اوکاروۀ نو دا د انسانی اختیار تشکیل کوی .اختیار پخپله د یو طویل تاریخی پرمختګ نتیجه وی .معروضی ضرورتونه چونکه د وخت وخت سره بدلیږی لهذا دا اختیار معروضی ضرورت ختموی نه بلکه دا دلالت کوی چې انسان معروضی او تاریخی ضرورت اوپېژنی او د خپلو مقصدونو دپاره ئې شعوری طور اوکاروی خو ددې دپاره د ډېر محنت او کړاؤ ضرورت وی لکه ډاکټر صېب وایی

ډېر په ګرانه ئې رازونه افشاء کېږی
دا دنیا دومره آسانه دنیا نه ده

ورپسې مې بلها غرونه دي مات کړي
ما موټلې په تالي کښې رنړا نه ده

## پ (ټولنیز پرمختګ-:

د ټولنې د خیالونو ,عقیدو ,تصوراتو ,سیاسی ادارو وغېره بنیاد د ټولنې د مادی ژوند حالات وی . د ټولنې د مادی ژوند دا حالات کوم کوم دی او دا د ټولنې په وده څنګه اثر کوی پدې کښې مختلف عوامل شامل دی.

## .1جغرافیایی ماحول-:

په جغرافیایی ماحول کښې د یو هیواد یا خطې آب و هوا ,نباتات ,جمادات ,زمکه او معدنیات وغېره شامل وی .دا په یوه خطه کښې د اوسیدونکو په ژوند ژواک اثر کوی خو جغرافیایی ماحول په ټولنیز پرمختګ کښې د پیدا کېدونکی بدلون بنیادی سبب نه وی مثلاً کۀ مونږه اوګورو په تېرو څو صدو کښې د انسانی تاریخ ډېر معاشرتی نظامونه بدل شول لکه قدیم اشتراکی نظام ,د غلامۍ نظام ,جاګیرداری نظام, سرمایه داری نظام وغېره خو پدې دوران کښې په فطری جغرافیایی حالت کښې بدلون د نشت برابر دې ځکه چې په جغرافیایی حالت کښې بدلون په زرګونو لکهونو کلونه پس راځی لهذا د ټولنیز معاشرت پرمختګ او بدلون د جغرافیایی حالت او ماحول سره تړل د ټولنیز پرمختګ لاره نیول دی

## .2آبادی-:

زمونږه ټولنه اوس هم ددې غلط فهمۍ ښکار ده چې "څوک ګڼ دی هغه زوراور دی ."تاریخی مادیت وایی چې آبادی د مادی حالت ژوند ضروری عنصر دې .دا په ټولنیز پرمختګ اثر کوی خو بنیادی سبب ئې نه دې کنه هندوستان به اوس د امریکې نه زیاته وده کړې وې ځکه چې دوی د امریکې نه په تعداد کښې ډېر سِوا دی.

## .3پېداواری طاقتونه او رشتې-:

تاریخی مادیت وایی چې پېداواری قوتونه او پېداواری رشتې د ټولنیز پرمختګ دپاره بنیادی حیثیت لری. د یوې ټولنې پېداواری قوتونه په هغې ټولنه کښې د موجوده تمام پېداواری ذریعو ,د انسانانو مجموعی محنت او د پېداوار د علم و هنر نوم دې .د خپل ژوند د بقاء او پرمختګ دپاره دا ضروری ده چې انسان دې

اول کپړه ,خوراک او د سر سیوري پیدا کړی .لهذا پیداواري طاقتونه د انساني ژوند دپاره ضروري سامان معیشت پیدا کوي.
زمونږ په زمکه کښې هر قسم او بې شمېره خزانې موجودې دی خو دلته المیه دا ده چې یا خو ددې د کارولو دپاره زمونږ سره اوزار او آلې نه وی او کۀ اوزار وی هم نو د هغې دپاره هغه هنرمند او تجربه کار خلک نه وی چې کوم دا کارولې شی .ځکه چې دا خلک یا خو د بې روزګارۍ دلاسه په پردو هیوادونو کښې پراته وی لکه ډاکټر صېب وایی کنه

هڅې مه ګرځه په نورو هیوادونو
پدې خپله خاوره ځئ په ځئ کوثر شته

دا سپوږمۍ ته چې ځې هیڅ بې هیڅه نه ځې
ورسره څه عقل پوهه او هنر شته

او یا زمونږه تعلیمی نظام دومره ګډوډ دې چې داسې خلک پیدا کول ډېر ګران دی لکه وایی
چې ئې د سکول پر ځائې ملا له لېږو
اخلو د خپلو ماشومانو آزار

یو کار کۀ ډېر هم مقدس وی زیاره
چې په خپل وخت نه وی نو نه دې پکار

انسان د څه شی خلاف جدوجهد په ټولنیز شکل کښې کوی او فطری طاقتونه د ځان دپاره کارآمد جوړوی نو د پیداوار دپاره همېشه یو ټولنیز عمل پکار وی.د انسان د ټولنیز عمل په دوران کښې چې د پیداوار په سلسله کښې د دوی په مېنځ کښې کومې رشتې پیدا شی هغې ته پیداواری رشتې وئیلې شی .ددې پیداواری رشتو او پیداوای قوتونو په مېنځ کښې یو اتحاد وی.
د پیداوار ورومبې خاصیت دا دې چې دا تر ډېرې مودې پورې په یو حالت نه شی پاتې کېدې بلکه دا همېشه د ارتقاء او بدلون په حالت کښې وی .د پیداوار د وسائلو او طریقو د بدلون سره په تمام ټولنیز نظام , تصوراتو ,عقیدو ,سیاسی خیالونو او ادارو کښې بدلون راځی لکه د ډاکټر صېب د خپلې خلې وېنا ده چې:
"زمونږ مشرانو به دا خبره کوله "ښځې له یا کور دې او یا ګور دې "ځکه چې هغه وخت دا تقاضه کوله چې ښځه د کور کارونه سنبهال کړی هم پوره ده او زور ټول په مټو کښې وو او کارونه ټول د مټو د زور وو او اوس د مټو نه زور لاړ د یو اساس نظام تحت سر ته او په سر کښې سائنس ثابته کړه چې ښځه د سړی نه کمه نه ده

www.sikaram.com

لهذا مونږه پدې باندې زور نه اچوؤ چې دا دې کور کېښني ,مونږه وايو چې دا دې راووځی ,دا دې تعليم اوکړی او دا دې په هغه معاشرتی کارونو کښې برخه واخلی په کمو کښې چې د دې ضرورت دې"

د سائنسی انقلاب نه پس د متيو نه زور لاړ سر ته اوس هغه تن زوراور دې چې مازغه ئې کار کوی خو مونږه تر اوسه دا بدلون قبول نه کړۀ ډاکټر صېب ئې هم څه داسې ذکر کوی

لاد سر د زوره اوس هم خبر نه يم

لاد مټ په زور مې هغسې ايمان دی

يا لکه بل ځائې دې بدلون ته داسې اشاره کوی

چرته د لرې نه بتهې وهی

راپسې جنګ له اوس لښکر نه راځی

لهذا د ټولنې د پرمختګ قوانين د چا انسان په ذهن يا په مروجه تصوراتو او خيالونو کښې لټول نه دی پکار بلکه په يو خاص وخت کښې د يوې ټولنې په مروجه پېداواری وسائلو مونږه د هغه ټولنې د پرمختګ قوانين لټولې شو .لهذا د ټولنيز پرمختګ دپاره تاريخی ضرورت پېژندل او ددې د پوره کولو دپاره محنت او تدبير پکار دې چې زمونږه مادی وسائل ورسره ډېر کارآمد شی .لکه ډاکټر صېب هم وايی چې

لاس به وهې څه کار تدبير به کوې

ګنی په غم به اوړې وير به کوې

په تندی چا وې چې ليک بل څوک کوی

په دې پخپله څه تحرير به کوې

د پېداوار دوېم خصوصيت دا دې چې د پېداواری طاقتونو د بدلېدو سره دا بدلېږی او بيا ددې له وجې پېداواری رشتې هم بدلېږی .اوس دا پېداواری رشتې هم په پېداواری طاقتونو اثر کوی .لهذا کۀ ددې دواړو په مېنځ کښې توازن وی نو ټولنه به پرمختګ کوی او کۀ پدې کښې توازن نه وی نو ټولنه به د جمود ښکار وی ځکه چې د نوی پېداواری قوتونو وده د زړو پېداواری رشتو په موجودګۍ کښې ناممکن ده ځکه خو ډاکټر صېب وايی

## نوې وخت چې نوې فکر اومومی
## هله به روزګار د ژوندانه کېږی

ډاکټر صیب په یو نظم "بدلون "کښې هم وایی چې



هر یو شې پدې جهان کښې
یا دې یو شان
یا دې بل شان
خو بیا هم د خدئ قدرت دې
شریک یو پکښې خصلت دې
دا خصلت ئې حرکت دې
دا کۀ فکر کۀ سماج دې
فلسفه ده کۀ رواج دې
پر ځائې چرته نه اودرېږی
ځی د وخت سره بدلېږی
هغه خلک چې هوښیار دی
قبلوی بدلون په لار دی
مخ په وړاندې تګ کوی خلک د کار دی

## زمان و مکان:-

قدیم یونانیانو د زمان د آغاز او انجام نه وو قائل هم دا وجه وه چې هغوی زمان غېر حقیقی او غېر مخلوق ګڼلو .زرتشت واحد انسان وو چې زمان ته ئې حقیقی ووې او د دې مستقیم حرکت ,نقطه آغاز ,ارتقاء او نقطه انجام ئې تسلیم کړل.

دا نظریه چې وخت خپل ځان تکراری (History repeats itself)د اطالوی یو تاریخ پوه ویچو په وړومبی ځل وړاندې کړه ویچو وایی چې

"هر یو قام په یو دائره کښې چکر لګوی"

دې د تاریخ د تکرارېدو دې عمل ته (Recorsi)وایی.دا مورخین تهذیب ته هم د انسانی ژوند پشان ګوری لکه انسان پېدا شی ,ځوان شی ,بوډا شی او آخره کښې ختم شی دغه شان دوی د تهذیب د نقطه آغاز او

زوال قائل دی .دا د مایوسی نظریه ده چې د ټولنیز پرمختګ په لار کښې ځنډ کېږی ځکه چې کله یو تن ته د خپل تمام کوښښونو انجام زوال ښکاری نو هغه بیا بې کاره شی او د کائنات د تسخیر پر ځائې په زوال او مرګ غور و فکر کوی ډاکټر صېب هم دې ته داسې اشاره کوی

خلک حکمت کوی جړې ختموی
زۀ د جماعت ګوټ کښې بانګونه وایم

لهذا تاریخی عمل په یو دائره کښې چکر نه وهی بلکه په خط مستقیم باندې ارتقاء پذیر وی .د ارتقایی عمل مزاحمت کېدې شی ,رفتار ئې کمېدې شی خو په یو خاص وخت کښې دا عمل په ځائې اودرول د چا د وس کار نه دې لکه ډاکټر صېب وایی

د ثبات منونکی خړې سترګې واخله
څه چې دی پدې دنیا کښې ټول بدلېږی

دا سېلاب د ارتقاء دې ډېر بې رحمه
هغه وړی به چې په لار کښې ئې اودرېږی

زمونږ نه چاپېره مادی شیان نه یوازې حرکت کوی بلکه دا Dimensionsهم لری .تمام مادی شیان په یو خاص سلسله عمل سره د یو بل تعاقب کوی.د بعضې شیانو ځائې نور مادی شیان اونیسی دغه شان د دوی ځائې نور مادی شیان اونیسی او دا سلسله دغه شان روانه وی نو لهذا وخت نور څه نه دې خو بس یو خاص سلسله عمل دې چې د یوې سلسلې نه پس بله او د بلې نه پس بله پېدا کېږی.
د زمان و مکان د ټولو نه اهم وصف ددې معروضیت دې یعنی دا د انسانی ذهن نه آزاد وجود لری ځکه چې دا د مادې د وجود آفاقی شکلونه دی.تصوریت پسند د زمان و مکان د معروضی وجود نه منکر دی او هغوی دا د شعور پېداوار ګڼی خو لېنن په خپل کتاب "مادیت او تجربی تنقید "کښې دا خیال په سختۍ سره رد کړې دې وایی
"کۀ مونږه د تصوریت پسندو دا خبره اومنو چې مکان و زمان د انسانی ذهن پېداوار دې نو بیا به د سائنس ددې ثابت شوی غېرمتنازعه حقیقت سره څه کوؤ چې زمکه د انسان د ظهور نه وړاندې په زمان و مکان کښې خپل وجود لرلو"
د مکان درې Dimensionsدی اوږدوالې پلنوالې او دنګوالې هم ددې وجې په مکان کښې ماده په درې سمتونو کښې حرکت کوی او دا حرکت د واپسۍ قابل دی خو ددې برعکس زمان یعنی وخت یو

www.sikaram.com

Dimensionلري هم دا وجه ده چې په زمان کښې تمام شیان په یو سمت کښې حرکت کوی، دا حرکت همېشه د ماضی نه مستقبل ته وی او ناقابل واپسی وی هم دا وجه ده چې وخت څوک په شا نه شی بوتلې .ډاکټر صېب هم د وخت د تکرارېدو تصور په سختو ټکو سره رد کړې دې لکه وایی

په شا چورلوی پل د تاریخ زور کوی لګیا ده
رالوتې په وطن څه لېونۍ شانتې هوا ده

یا لکه بل ځائې هم وایی

یم به پاګل کۀ مې باور نه راځی
تېر شوې وخت بیا په ګودر نه راځی

اوس هغه خلک کوم چې د تاریخ پل په شا چورلوی دا د انسانی تاریخ د پرمختګ په لار کښې خنډ کېږی ځکه چې دا خلک د Status qouښکاری دی او هیڅ قسم بدلون ته تیار نه دی .اوس دا status qouد غټو خلکو په حق کښې ده خو زمونږ په حق کښې خو بیخی نه ده نو بیا په مونږ څه پېریان ناست دی او دا په کوم خوب اوده یو چې ددې د قائم ساتلو دپاره زور لګوؤ ډاکټر صېب هم دا محسوس کړې وه چې

خلک د وخت سره په مخکښې روان
زه یم دوه درې پېړۍ په شا راغلې

زمونږ دا وطن چې اړې ګړې د ے روغه ورځ نه مومو او د رڼا درک نه لګی دا ځکه چې زمونږ ټولنیز شعور د جمود ښکار دې او په شپږمه صدۍ کښې قېد دی او په دې هوښیار وخت کښې هم چې مونږ ته څه ستونزه راپېښه شی نو د هغې د حل دپاره په شا زورونه لګوؤ چې یوه غېرسائنسی او غېر منطقی طریقه ده ځکه خو زمونږ ستونزې لا په خپل ځائې حل طلب پرتې دی ډاکټر صېب په ډېر جرأت سره ددې وهم مخه نیسی او وایی

سر د رڼا د زمان اولګېدو
اوس د تیارې خبرې خوند نه کوی

د نوی وخت فکر دې نوې پکار
هغه زړې خبرې خوند نه کوی

www.sikaram.com

اوس هغه خلک کوم چې په نوی وخت کښې هم زړې خبرې کوی، د وخت پل په شا چورلوی او دا قام په تیاره کښې ساتل غواړی دا پېژندل پکار دی او ددوی مخ نیوې پکار دې .دا خلک پېژندل ډېر آسان دی بس کوم خلک چې د علم د رنړا نه او د مخ په وړاندی قدرونو او فکرونو نه ویرېږی او مخالفت ئې کوی هم دا خلک دی چې ددې قام د غم نه لاس په سر دی لکه ډاکټر صېب هم ددې خلکو څهره داسې راښکاره کوی

ملا نه ویرېږی بل د م عذابه
بس ویرېږی د قلم او د کتابه

بل ځائې وایی چې

ملا چغې وهی زیاره چې دا څه واې
په څلور واړه مذهبه ناروا دی

## د علم نظریه-:

تی ایچ هکسلئ ډېر ښه وئیلی وو چې "روایتاً دا د نوی رښتیاؤ مقدر دې چې ددې آغاز د بدعت په طور کېږی او انجام ئې د توهماتو په طور کېږی "که مونږ اوګورو نو یوه خبره د هرې زمانې خام خیالی ده او هغه دا چې هر دور د خپل وخت د انسانی کارنامو او د عقل د معراج نمائندګی کوی لکه تر اوسه خلکو دا فکر کوو چې دنیا د غوائې په ښکر ولاړه ده یا دا خبره چې زمکه دکائنات مرکز دې او دا په ځائې ولاړه ده او نمر د دې نه چاپېره ګرځی خو کومو خلکو چې ددې مخالفت اوکړو نو هغوی په اور ستی کړې شول .دغه شان د قدیم یونانیانو دا عقیده وه چې د اقلیدس د جیومیټرئ په بنیاد مونږه د کائنات تمام حقیقتونه اوپېژندل خو روسی ریاضی دان نکولائي بوفاچیفسکی دا نظریه رد کړه او وې وئیل چې د مکان خواص په تمام کائنات کښې یو شان نه وی بلکه دا د یوې خطې په مادی وجود او مادی سلسله عمل باندې انحصار کوی.لهذا مونږ دا وئیلی شو چې د هر یو دریافت نه پس یو چېلنج مخې ته راځی او د هر یو ځواب نه نوې پوښتنه راولاړېږی هم دا وجه ده چې د دریافت د عمل څه انجام نه وی .خو مونږ یو چې په توهماتو پسې انختی یو ډاکټر صېب هم وایی

لا دی کچه پښتنو ذهنونه
پاخه پرېږدی فکرونه خام اخلی

په مارکسی فلسفه کښې د علم ګڼ اړخونه دی خو کوم اړخ چې د ډاکټر صېب شاعرئ کښې ښکاره دې هغه د رښتیاؤ مارکسی مفهوم دې.

www.sikaram.com

د یو شی داسې علم چې د هغې بالکل صحیح انعکاس کوی د مارکسی فلسفې په رو سره رښتیا دې مثلاً تمام جسمونه په اېټمونو مشتمل دی، زمکه د انسان نه وړاندې موجود وه، عوام د تاریخ جوړونکي دی وغیره.

اوس تصوریت وایی چې رښتیا موضوعی وی مطلب ددې انحصار په انسان وی او مطلق وی خو جدلیاتی مادیت وایی چې رښتیا معروضی وی دا د انسانی ذهن محتاج نه وی مثلاً زمکه ګول ده دا خبره رښتیا ده خو ددې انحصار په انسانی ذهن نه دې ځکه چې زمکه د انسان نه مخکښې موجود وه .خو انسان ددې معروضی رښتیاؤ نه څنګه خبرېږی ?انسان مطلق رښتیا پېژندې شی او کهٔ نه اضافی او نسبتی رښتیا نو مارکسی فلسفه وایی چې رښتیا همېشه نسبتی او اضافی وی .اوس چې رښتیا مونږه یوازې په نسبتی حالت کښې پېژندې شو نو بیا مونږه ولې د یو انسان خبره یا یو کتاب مطلق حقیقت ګڼړو لکه ډاکټر صېب هم وایی

ګورې چې په زور کتاب کښې نوې ژوند

ډز شوې دې زیاره ستا په سر کښې هم

او کهٔ څوک حقیقت مطلق اوګڼړی نو د هغه تخلیقی قوتونه ختم شی او د جمود ښکار شی نو نړۍ چې د علم په مېدان کښې مخ په وړاندې ځی دهغه په دې منډه کښې ډېر شاته پاتې شی.

دا نسبتی رښتیا هم د مطلق رښتیاؤ یو جز وی ځکه د انسانی دماغو د صلاحیتونو څه حد نشته خو یو تن یا یو انسانی نسل په یو متعلقه تاریخی حالاتو او پېداوار کښې د سائنس او تجرباتی تکنیکس د ودې د سطح پورې په خپل علم کښې محدود وی هم دا وجه ده چې د تاریخ په هره مرحله انسانی پوهه نسبتی وی . لهذا د مطلق رښتیاؤ فوری او کلی طور حصول ناممکن دې البته ددې دپاره به د علم د یو لامحدود سلسله عمل نه تېرېدل پکار وی .د سائنس د هر یو ایجاد سره علم وده کوی او د نسبتی رښتیاؤ د پېژندو سره مطلق رښتیاؤ ته ورنزدې کېږی خو کهٔ اوس یو تن پدې ارتقائي سفر کښې دا نسبتی رښتیا مطلق اوګڼړی نو دا د ټولنې د پرمختګ په لاره کښې خنډ کېږی.د یو سلسله عمل دپاره یو نسبتی رښتیا مطلق او دائمی نه شی کېدې ځکه چې دا سلسله عمل پخپله هم پرمختګ کوی .هغه حالات په کوم کښې چې یو رښتیا راښکاره شی دغه حالات بدلېږی بیا په دغه بدل حالاتو کښې هغه رښتیا ، رښتیا پاتې نه شی بلکه د ټی ایچ هکسلئ د وېنا مطابق هغه د یو وهم په طور ختم شی او یا پکښې وسعت راشی هم دا وجه ده چې د نن رښتیا د سبا دروغ ثابتېدې شی مثلاً "زما یو ډېر ګران او خوږ ملګری عامر جان چې په کرغزستان کښې مېډیکل سائنس وایی زما نه د رښتیاؤ په اړه پوښتنه اوکړه ما ورته وئیل کاغذ راواخله او اوس چونکه ماسپخین دې نو د کاغذ دپاسه اولیکه چې "اوس ماسپخین دې "هغه هم داسې اوکړل ماښام ترې ما تپوس اوکړو چې هغه کاغذ راواخله او اوګوره چې څه پرې لیک دی هغه ماته وئیل چې "اوس ماسپخین دې "نو ما ورته اوخاندل چې دروغ مه وایه اوس خو ماښام دې دغه لیکل د ماسپخین مناسبت سره رښتیا وو خو اوس دروغ

www.sikaram.com

دی "نو لهذا مونږ دا وایو چې د یو وخت رښتیا د بل وخت دپاره دروغ ثابتیدې شی ځکه یو شې هم په کائنات کښې په ځائې نه دې ولاړ بلکه دا هر څه بدلیږی نو پدې دروغو پسې بیا انختل نه دی پکار او دا مونږ چې خوځو نه او په ځائې ولاړ یو دا ځکه چې مونږه رښتیا مطلق ګنړلی خو ډاکټر صیب وایی

بدلیږی ځی پرله پسې وختونه
د هر وخت خپله څهره خپل رنګونه

یا لکه بل ځائې خو بیخی د غره د سره داسې وایی

د یو وخت رښتیا د بل وخت هم رښتیا وی
دا خبره په هیڅ جوړ هم رښتیا نه ده



زړه خو مې غواړی چې بس لګیا وې او د ډاکټر خالق زیار صیب په ډیرو اړخونو مې خبرې اوکړې خو زمونږ ټولنه شعوری طور لاهغه ځائې ته نه ده رسیدلې چې د ډاکټر صیب د فکر هره غوټۍ اوسپړم لهذا د ډاکټر صیب پدې شعر درنه اجازه اخلم چې

د زړه خبره درته څنګه اوکړم
محفل دې ناست پکښې بلها خلک دی

*********